مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۴/۰۲/۰۱

# د فتوی په باره کي مختصر بحث

فَتْوی یا فَتیا، چي اکثریت پښتانه یې پتوا تلفظ کوي او جمع یې فتاوی ( فتاوا) ده، په شرعي مسایلو کي د فقیه او دیني عالم حکم دی؛ هغه متن ته فتوی ویل کیږی چي یو دیني عالم یې د خپلو شاګردانو او پیروانو د رهنمایی لپاره لیکي ( منتهی الارب) سعدي شیرازي وایي:

کجا عقل یا شرع فتوی دهد
که اهل خِرد دین به دنیا دهد
ترجمه: کله عقل او یا شرع دا فتوی سي ورکولای
چي د عقل څښتنان دین، په دنیا سي خرڅولای

هغه شخص چي فتوی ورکوي او یا د فتوی ورکولو صلاحیت ورسپارل سوی وي مفتي نومیږي. فتوی معمولاً د استفتاء یا فتوی غوښتلو په صورت کي ورکول کیږي یا صادریږي. کله کله ځیني علماء او فقها د دیني مسایلو د ښه ترا روښانولو او خلکو د رهنمایی کولو په مقصد، له استفتاء پرته هم، فتواوي صادروي او کله کله اسلامي واکمنان او خلفاء فتواوي صادروي. د مثال په توګه حضرت عمر فاروق د خپل خلافت په وروستیو شپو ورځو کي د زناکار نارینه او زناکاري ښځي لپاره د سنګسار حکم، چي اختلاف وربانديي موجود وو، په قاطع شکل صادر کړ. د شرابو د څښلو سزا او حد یې، چي مخکي یا حد ورته موجود نه وو او یا څلوښت دُرې وو، اتیا دُرو ته لوړ کړ؛ او د اسلام د خلیفه د حکم په اساس، په آینده کي همدغه حد وټاکل سو.

فتوی د مفتیانو او د ديني علماوو او فقهاوو قاطع حکمونه دي چي د ژوري او هر اړخیزي دیني پوهي په اساس یې صادروي او د کتاب د حکم حیثیت لري؛ چي چاته د سرغړوني مجال نه پریږدي. د فتوی په مسله کي تر ټولو لوی مشکل دا دی چي د اهل سنت والجماعة د مختلفو مذهبونو او دیني لارو مشرانو هر یوه، د خپلي پوهي، درک او مذهبي لاري سره سم، حکمونه صادر کړي دي او هغه څوک چي یا کافي مذهبي زده کړي ونه لري یا مذهبي کتابونو ته لاسرسی ونه لري او یا مذهبي کتابونو ته لاسرسی ولري خو په یوه موضوع کي د دوو یا دریو فتواوو د مقایسه کولو او د سمي فتوی د انتخابولو صلاحیت ونه لري له سختي ستونزي سره مخامخ کوي.

یوازي د اهل سنت والجماعة د فتواوو یا فتاوا د کتابونو شمېر، چي هر یو یې تر لسو ټوکو پوري لوی کتابونه دي، شمېر تر سلو پوري رسیږي او که د شیعه فقه فتاوا هم ورسره جمع کړو خو شمېر یې په اصطلاح تر چند اوړي. د مثال په توګه د اهل سنت والجماعة د پیروانو ځیني فتاوی:

۱: حبیب الفتاوی. د مفتي محمدحبیب الله قاسمي تاءلیف.
۲: فتاوی الاثیمینی. د محمدبن صالح الاثیمین تاءلیف.
۳: فتاوی صراط المستقیم. د مولنا محمد احمد میرپوري تاءلیف.
۴: فتاوی جهانداري. د مولنا ضیاءالدین برني تاءلیف.
۵: فتاوی عالمګیري. د منځني ختیځ، مرکزي اسیا او هند د ۱۵۰ علماوو تاءلیف.
۶: فتاوی النظم: د محمدالحمزاوي تاءلیف.
۷: فتاوی عزیزي. د شاه عبدالعزیز دهلوي تاءلیف.
۸: فتاوی نجیمي. د ابن النجیم المصري الحنفي تاءلیف.
۹: مختصر الفتاوی المهدیه: د محمدالعباسی المهدي تاءلیف.
۱۰: فتاوی الهیثمیه. د احمد شهاب الدین ابن حجر الهیثمي المکي تاءلیف.
۱۱: فتاوی محمودیه. مولنا مفتی محمودحسن ګنګوهی.
۱۲: فتاوی حقانیه. شیخ الحدیث مولنا عبدالحق.
۱۳: فتاوی عثمانیه. مفتی غلام الرحمن.
۱۴: فتاوی رضویه معروف به فتاوی اعلی حضرت، مفتی محمدرحمت علی تیغی مصباحي.
۱۵: فتاوی سراجیه. سراج الدین علی بن عثمان بن محمد اوشي فرغاني.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

د اهل سنت والجماعة، د فتاوا پر دې کتابونو برسېره چې ما يې نومونه ذکر کړيدي، ۲۵ ويشت نور کتابونه ماته معلوم دي، او لا ښايې زيات وي، چې هر يو يې له۶ څخه تر ۱۰ او ۱۱ ټوکو پوري لري، چې هر ټوک يې له ۴۰۰ څخه تر ۶۰۰ مخه پوري دي. د مثال په ډول احسن الفتاوى ۱۰ ټوکه، المسايل المهمه ۱۰ ټوکه، بدايع الصنايع فى ترتيب الشرايع ۷ ټوکه، فتاوى رحيميه ۱۰ ټوکه او . . . د فتاوى د دې کتابونو د اکثرو حکمونه له يوه بل سره طبعاً لږ او ډېر توپير لري کنه نو د دونه زياتو فتاوى ليکلو ته څه ضرورت وو. ديني علماء د دې فتاوى د ليکلو په اساس امتيازات او د مولنا، شيخ الحديث، شيخ القرآن، شيخ القرآن والحديث او د علامه تر سرحده پوري القاب ترلاسه کړي دي او حتماً به يې فکر کړی وي چې اسلام ته يې ډېر لوی خدمت کړی دی. په داسي حال کي چې دا له اسلام سره ښرګند ظلم دی او په لوی لاس د مسلمانانو د ګمراهی سبب ګرځېدلی دی. ځکه چې په دومره فتوای کي علماء هم سمه لار نه سي پيدا کولای عوام خو لا هلته پرېږده.

په افغانستان کي تر ټولو مهمه فتوی چې، وروسته، د هغې په اساس، افغانستان د مستقل هويت ښتن سو، د کندهار او شاوخوا سيمو لپاره، د ايران د صفوي دولت د بيګلربيګي ګرګين خان د ظلمونو او تېريو له امله د مکې معظمې له علماوو څخه د ميرويس نيکه استفتاء او د هغې په جواب کي د علماوو فتوا وه.

ګرګين ، ميرويس خان د دې لپاره اصفهان ته واستاوه چې هلته يې نظر بند او يا بندي کړي او ځان يې له قومي نفوذ او خطر څخه په امان کړي. خو ميرويس خان، په خپل عقل او تدبير، د دربار په عالي رتبه مقاماتو کي نفوذ وکړ او بالآخره يې له شاه څخه حج ته د تللو اجازه ترلاسه کړه. په دې باره کي زيات تفصيل موږ له موضوع څخه ليري کوي.

ميرويس خان د مکې معظمې له علماوو څخه د کندهار د وضع په باره کي استفتاء وکړه:

« موږ د ايران په شرق کي د هندوستان سره جوخت ژوند کوو. موږ په اصل کي سنی سنوي يو او د پاکي عقيدې ښتنان يو. زموږ په سيمه کي ډېر زيات قبايل او اقوام په موږ اړه لري. له څه وخت راهيسي د عجم شاهان چې روافض او د صحابه وو دښمنان دي پر موږ باندي مسلط سوي دي او موږ د هغوی رعيت يو. پر موږ باندي ډېر زيات ظلم او تېری کوي. زموږ په مخ کي، له څلورو يارانو څخه، دريو يارانو ته ښکنځل کوي او بد رد ورته وايی. ګرجيان او کافران پر موږ باندي مسلط سوي دي. موږ يې په ډول ډول غمونو او بلاوو ګرفتار کړي يو. پوځيان يې په ډېرو برخو کي د شريعت په خلاف عملونه کوي او پر هغوی باندي يې د محافظينو نوم ايښی دی. هغوی زموږ پر ناموس باندي تېری کوي او د هيڅ ډول ظلم څخه مخ نه اړوي. هيڅ ډول زړه سوی او ځوانمردي نه لري او زموږ اولادونه يې راڅخه غلا کړي او بېولي دي. هغوی ګرجستان ته لېږي او هلته يې خرڅوي او شيعه ګان زموږ ښځې په زور په نکاح کوي. که چيري موږ عاجزان پر دين باندي غيرت کوو نو آيا موږ ته شرعاً روا ده چي پر دوی باندي توري را واخلو او هغوی مړه کړو او هر ځای چې يې ووينو هغوی قتل کړو او په يوه صف او اتفاق له هغوی سره و جنګيږو؟ او که موږ له هغوی سره مقابله او جګړه وکړو نو زموږ عمل ته جهاد ويل کېدلای سي؟ او که زموږ څخه څوک ووژل سی هغوی د شهادت مرتبې ته رسيږي؟ او که چيري موږ پر هغوی باندي غالب سو نو بيا د روافضو مال موږ ته روا دی او موږ کولای سو چې د هغوی څخه نيول سوي کسان د جنګي اسيرانو په توګه خرڅ کړو؟ ځرنګه چې زموږ مملکت د هندوستان په څنګ کي پروت دی نو که موږ خپل ملک د هندوستان پاچا ته، چې زموږ په څېر يو سني سنوي دی، ورکړو او هغه ته پناه يو سو دا روا کار دی؟ زموږ څخه د شرعي شريفي په اساس سوال کيږي کنه؟ زه ستاسي څخه د فتوا غوښتنه کوم او ماته د حقايقو په اساس جواب راکړی» سني علماوو او مجتهدينو هغه ته فتوا ورکړه. ميرويس خان هغه فتوا ورسره واخيستله؛ له حج څخه د اصفهان پر لور روان سو.

کروزينسکی، سفرنامه. ص ص ۳۶-۳۵

ميرويس خان، د مکې معظمې د علماوو د همدغې فتوا په اساس، په کندهار کي قيام وکړ؛ ګرګين خان يې وواژه او په افغانستان کي يې د خپلواکی اساس کښېښود. په دې باره کي نور تفصيل زموږ د بحث موضوع نه ده ځکه چې زموږ بحث يوازي د استفتاء د شکل او د فتوی په باره کي دی.

کله کله قاضيان، دينی علماء او مفتيان، پرته له دې چې استفتاء ورڅخه سوې وي، ځيني احکام صادروي چې د فتوا مفهوم لري. مثلاً په افغانستان کي د اسلامي اِمارت په لومړۍ دوره کي، چې د ۱۹۹۴ ميلادي کال څخه تر ۲۰۰۱ پوري يې دوام وکړ، په افغانستان کي، د اسلامی اِمارت مقاماتو، د موسيقۍ ترڅنګ، د تصويرونو جوړول، عکسونه اخيستل، ټلوېزيونونه او حتی د عکاسی کامرې منع کړې. د خلکو ټلوېزيونونه يې مات کړل، د موسيقی فيتې او د ويډيو فيتې يې په ونو وځړولې او ښتنانو ته يې سزاوي ورکړې. له واکمنانو څخه چا پوښتنه نه سوای کولای چې هغوی په کوم دليل د خلکو ټلوېزيونونه ماتوي او شخصي شته منيو ته تاوان رسوي.

د ۲۰۲۱ کال د آګست د مياشتي په نيمايی کي طالبان دوهم ځل قدرت ته ورسېدل. موږ ګورو چي په افغانستان کي نه يوازي ډېر زيات ټلوېزيونونه فعال دي بلکه ملي ټلوېزيون او څو نور ټلوېزيونونه پخپله د اسلامي اِمارت له خوا اداره کيږي او د اِمارت مشران مرکې پکښي کوي. کله چې د اِمارت مشران او عالي رتبه مقامات په هيواد کي دننه او د هيواد څخه بهر سفرونه کوي او په کنفرانسونو کي برخه اخلي نو باقاعده عکاسان او ژورناليستان ورسره ملګري وي او شپه او ورځ يې متحرک تصويرونه يا فيلمونه د ټلوېزيون پر پرده باندي ښکاره کيږي.

د اِمارت له مشرانو څخه څوک د دې پوښتني حق نه لري چي که شل کاله مخکي ټلوېزون درلودل او د عکس اخيستل قبيح او د شريعت مخالف کار وو، شل کاله وروسته څه پيښه سوه چې هغه اعمال اوس بيرته روا بلل کيږي. پرون


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

يې چا د تحريم او نن يې چا د اباحت فتوا صادره کړې ده؟ دغه ځای دی چې عوام، د اسلامي اِمارت د اعمالو په برخه کې له سوالونو سره مخامخ کیږي او جواب يې نه سي ترلاسه کولای.
دغه راز که سعودي عربستان ته وګورو. د محمدبن عبدالوهاب د خپل تحريک په سر کې د عمر بن خطاب د ورور زيد بن خطاب قبر، چې له مختلو ليري او نيژدې سيمو څخه يې خلک زيارت ته ورتلل او مراد يې ورڅخه غوښت او پر قبر يې جنډۍ ولاړې وې او متوليانو يې نذرونه اخيستل، خراب کړ او لومړنی کلنګ يې پخپله ور واچاوه. ځکه د محمدبن عبدالوهاب په عقيده له بنده څخه مراد غوښتل شرک وو. په هغه وخت کې او لږترلږه دوه سوه کاله وروسته د سعودي عربستان خلک مجبور ول چې اوږدې ږيري پرېږدي خو نن موږ ګورو چې د هغه نظام مشران، چې ټول ځانونه د محمدبن عبدالوهاب پيروان هم بولي، ږيري خريی او يا داسي ږيري لري چې نه لرل يې بهتر دي. پخوا به ښځې په مطلق ډول په کورونو کې ساتلې کېدلې او د ښځو د تعليم او تحصيل خو چا خبره هم نه سوای کولای. مګر اوس ښځې د موټر چلولو لايسنسونه لري، موټرونه چلوي او نه يوازې په عربستان کې په پوهنتونونو کې تحصيل کوي بلکه په بهر کې د کفارو په ملکونو کی تحصيلونه کوي او بيرته خپل هيواد ته د خدمت او کار لپاره ستنيږي. اسلام هغه اسلام دی خو په اوامرو او فتواوو کې ژور تغيير ليدل کيږي. البته د افغانستان اسلامی اِمارت، د يويشتمي پېړۍ په دريمه لسيزه کې، په هغه ځای کې ولاړ دی چې محمدبن عبدالوهاب د اته لسمي پېړۍ په سر کې پکښي ولاړ وو. موږ، په دې برخه کې، له سعودي عربستان څخه فقط څه باندي ۳۰۰ کاله وروسته يو. عاقبت په خير.

پاته لري


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ